مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۰۹/۰۱

# د معنویت جوهر

له محـبت نه محـــــبت شــي پــيدا
له نفرتونو نه ، نــفرت شـــي پـــــيدا

د ماتـــــيدو، هـــغه قــامـونه نه دي
چې په کې فـکر د وحـــدت شـــي پيدا

هلـته روښـــان شـــي تـيارهٔ ذهـــنيت
چیرته چې نور د مـعرفت شـــي پـيدا

انسان ته ښــايي، چې يو هـوډ ولـري
له قـــوي عـــزم نه، همـت شي پـيدا

چې شي سمبال په علم و فن هر انسان
په کې ښکلا زيب او زيـنت شـــي پيدا

چـې يـي اثر د تربـــيت وي عــــالي
په کې جـوهر، د انســانيت شـــي پيدا

چې عالمی درد او محنت کړي احساس
په کې جوهر د معنويت شـــي پــــــيدا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ